# وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

# د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**8قوس_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان صفحه

معین مسلکی وزارت امور مهاجرین در سفرش به ولایت قندهار، از آمریت سرحدی سپین بولدک و کمپ تخته پل دیدن بعمل آورد 1

د همکاری دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول --------------------------------------------------------------------- 2

۳۰ خانواده در ولایت غزنی کمک نقدی دریافت نمودند ------------------------------------------------------------- 2

دایکندي کې ۲۶۲ کورنیو سره مرسته وشوه -------------------------------------------------------------------- 3

انتقال نزدیک به ۱۰۰ جسد مهاجران افغان از ایران به کشور طی دو ماه ----------------------------------------------- 4

نزدیک به ۱۳۰ پناهجو به شمول تعدادی از افغان‌ها در ترکیه بازداشت شده اند -------------------------------------- 6

برېتانیا: د کډوالو وروستی ډله د بیبي ستاکهولم له کښتۍ څخه ووتله -------------------------------------------------- 6

بلغاریا: له ترکیې سره پولې ته سل نور سرتېري استول کېږي--------------------------------------------------------- 8

یونان: در دو حادثه غرق شدن قایق در جزیره ساموس و لسبوس ۹ نفر جان دادند-------------------------------- 10

# متن کامل اخبار

## معین مسلکی وزارت امور مهاجرین در سفرش به ولایت قندهار، از آمریت سرحدی سپین بولدک و کمپ تخته پل دیدن بعمل آورد

ویب سایت وزارت




**الحاج مولوی عبدالرحمن راشد معین مسلکی وزارت امور مهاجرین و عودت کنندگان، در ادامه سفرش به ولایت قندهار، از آمریت سرحدی سپین بولدک و کمپ اسکان موقت مهاجرین برگشت کننده در و لسوالی تخته پل آن ولایت، دیدن بعمل آورد.**

**آقای راشد در این بازدید ارایه خدمات و فعالیت های موسسات همکار را در دو محل متذکره مورد بررسی قرار داده و هدایات لازم را جهت عرضه خدمات بهتر به مسوولان سپرد.**

**معین مسلکی وزارت با کارمندان آمریت سرحدی سپین بولدک دیدار داشته و از کارکرد آن آمریت و نهاد های همکار ملی و بین المللی نیز نظارت نمود.**

**گفتنی است که مهاجرین که از کشور پاکستان برگشت مینمایند مدت 48 ساعت را در کمپ تخته پل سپری مینمایند و از خدمات بشری موسسات همکار و ادارات ذیربط نیز مستفید میگردند.**

## د همکارۍ دوه هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د وزارت ویب سایت



د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت او د افغانستان د کلیو د بیارغونې او ټولنیزې او پراختیایي لار له موسسو سره د همکارۍ هوکړه لاسلیک شول .

د دې هوکړه لیکونو له مخې، د افغانستان د کلیو د بیارغونې موسسه به په هرات، فراه او غور ولایتونو کې ۱۶۰ زره ۹۰۸ راستنېدونکو، بېځایه شویو او کوربه ټولنې ته بیامېشتېدنې برخه کې د خدمتونو په وړاندې کولو کې یو میلیون ۲۰ زره ۱۰۲ امریکایي ډالر لګوي.

او د ټولنیزې او پراختیایې لار موسسه به په کندوز او بدخشان ولایتونو کې د ژمنیو کڅوړو په وېش ۳ میلیونه ۷۶۳ زره ۲۰ افغانۍ ولګوي، چې ۲۰۰ راستنې شوې کورنۍ به ترې ګټه واخلي.

دا هوکړه لیکونه د وزارت دعوت او ارشاد رییس او اوس د مسلکي معینیت سرپرست او د دواړو موسسو د استازو له لوري لاسلیک شول.

## ۳۰ خانواده در ولایت غزنی کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



**برای ۳۰ خانواده نیازمند در ولایت غزنی مساعدت نقدی بتاریخ ۶ قوس توزیع شد.**

**کمک یادشده مبلغ ۱۸ هزارو ۶۰ افغانی پس از شناسایی در ولسوالی های اندر و قره باغ توسط ریاست امور مهاجرین و عودت کننده گان آن ولایت از طرف کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان توزیع شد .**

## دایکندي کې ۲۶۲ کورنیو سره مرسته وشوه

د وزارت ویب سایت




**د دایکندي ولایت د مهاجرینو چارو ریاست په هلو ځلو او د وستا موسسې په مالي مرسته د لېندۍ پر شپږمه نېټه ۱۹۸ کورنیو هرې یوې ته ۵ زره ۲۲۰ افغانۍ، درې کمپلې، د پخنلځي کڅوړه او دوه ترپالونه او ۶۴ نورو کورنیو ته یو یوه بخارۍ ورکړل شوه.**

## انتقال نزدیک به ۱۰۰ جسد مهاجران افغان از ایران به کشور طی دو ماه

طلوع نیوز

**به گفته مسوولان این ولایت، مرگ طبیعی، تیراندازی مرزبانان ایرانی و رویدادهای ترافیکی از جمله علت‌های جان‌باختن این مهاجران افغان در ایران گفته شده است.**



در دو ماه گذشته، نزدیک به ۱۰۰ جسد مهاجران افغان از ایران به ولایت نیمروز انتقال یافته است.

به گفته مسوولان این ولایت، مرگ طبیعی، تیراندازی مرزبانان ایرانی و رویدادهای ترافیکی از جمله علت‌های جان‌باختن این مهاجران افغان در ایران گفته شده است.

سیدسلیمان آغا بهیر معاون والی نیمروز گفت: «در دو ماه گذشته، نزدیک به ۱۰۰ جنازه از مهاجران افغان از ایران به این ولایت انتقال داده شده است .بیشتر آن‌ها به علت مرگ طبیعی، تیراندازی مرزبانان ایرانی و رویدادهای ترافیکی جان خود را از دست داده‌اند«.

در همین حال، نزدیکان شماری از این مهاجران جان‌باخته از حکومت سرپرست خواستار جلوگیری از بدرفتاری و تیراندازی بر مهاجران افغان از سوی پولیس ایران هستند.

سیدآغا یکی از بستگان گفت: «احمد به هدف پیدا کردن لقمه نان، راه سفر غیرقانونی به ایران را در پیش گرفت؛ اما بر اثر شلیک نیروهای مرزبان ایرانی جانش را از دست داد. از حکومت سرپرست می‌خواهم که در گفت‌وگو با مسوولان حکومت ایران، جلوی افزایش این‌گونه رویدادها را بگیرند«.

بهیر یکی دیگر از بستگان گفت: «از حکومت می‌خواهم که جلو ظلم‌های ایران را بگیرد. هر افغان که می‌رود، مورد شلیک قرار می‌گیرد. گناه ما افغان‌ها چیست؟ چرا از مرگ‌شان کسی پرس‌وجو نمی‌کند؟«

بر اساس آمار مسوولان محلی نیمروز، روزانه حداقل ۵ جسد از ایران به این ولایت انتقال داده می‌شود.

**این در حالی‌ست که با شدت گرفتن اخراج مهاجران افغان از سوی حکومت ایران، همچنان روزانه صدها شهروند کشور به علت نبود کار و فقر، برای پیدا کردن کار از راه‌های غیرقانونی به ایران سفر می‌کنند.**

## نزدیک به ۱۳۰ پناهجو به شمول تعدادی از افغان‌ها در ترکیه بازداشت شده اند

رادیوآزادی




**تصویر آرشیف: نیروهای ترکی در حال پایین کردن گروهی از مهاجرین غیر قانونی از داخل یک کشتی اند .**

**قوای بحری ترکیه از بازداشت ۱۲۸ پناهجو در ولایت چاناق قلعه این کشور خبر داده است.**

**رسانه های خبری ترکیه به روز چهارشنبه گزارش دادند که این پناهجویان اتباع افغانستان و ایران می باشند که تقریبا ۳۵ نفر آنها در خشکه دستگیر شده اند و متباقی در دو عملیات قوای امنیتی این کشور در جریان سفر در آب شناسائی شده و بازداشت شده اند.**

**ترکیه از هفته گذشته به این سو عملیات عمومی را بر علیه پناهجویان غیر قانونی در این کشور آغاز کرده است.**

## بریتانیا: د کډوالو وروستی ډله د بیبي ستاکهولم له کښتی څخه ووتله

مهاجرنیوز




**د پناه غوښتونکو وروستۍ ډله د سه شنبې په ورځ د بیبي ستاکهولم له کښتۍ څخه ووتله. له دغې کښتۍ څخه چې د برېتانیا پورتلنډ بندر کې یې لنګر اچولی د کډوالو د سرپناه په توګه کار اخیستل کېده.**

**اته پناه غوښتونکي پرون سه شنبه د نومبر ۲۶ د بیبي ستاکهولم له کښتۍ څخه ووتل. تمه ده چې د کښتۍ کاروونکي د چهارشنبې په ورځ د کډوالو له دغه استوګنځي څخه ووځي. د کښتۍ مسولیت به د ۲۰۲۵ د جنورۍ په اتمه یو ځل بیا بیبي مارین ته وسپارل شي چې د بیبي ستاکهولم خاوندان دي.**

**بیبي ستاکهولم کښتۍ چې د برېتانیا د دورسېټ سیمې په پورتلنډ بندر کې یې لنګر اچولی د اوبو پر سر سرپناه بلل کېدله. په دغه کښتۍ کې د کډوالو ځای پر ځای کولو ته هغه مهال د پای ټکی کېښودل شو چې د برېتانیا نوي لومړي وزیر په دې اړه د پخواني حکومت پرېکړه لغوه کړه.**

**د یادولو ده چې تېر اکتوبر ۳۰۰ پناه غوښتونکي له بیبي ستاکهولم څخه کاردیف، ولفرهامپتون، بریستول او ورکساپ ښارونو کې د کډوالو استوګنځیو ته لیږدول شوي وو.**

**بي بي سي په یو راپور کې لیکلي دي، خبریالې یې له یوه پناه غوښتونکي سره خبرې کړې چې هامپشایر ته د انتقال په موخه د دوشنبې په ورځ له بیبي ستاکهولم څخه ووت. دغه کډوال بي بي سي ته ویلي دي چې د تېرې اونۍ په پای کې کښتۍ کې ټولټال ۱۸ کسان پاتې ول چې ۱۰ تنه یې د دوشنبې او پاتې نور د سه شنبې په ورځ له کښتۍ څخه ووتل.**

**په دغه کښتۍ کې ټولټال ۴۰۰ کډوال ځای پر ځای شوي وو. د ګارډین د خبر له مخې، د ډېریو دغو کډوالو غوښتنو ته د چارواکو له خوا مثبت ځواب ورکړل شوی دی.**

له دې وړاندې د برېټانیا کارګر ګوند چې واک یې په لاس کې دی ویلي وو، د بیبي ستاکهولم د کارولو لګښت به راتلونکی کال له ۲۰ میلیون پاونډو (۲۶ ملیون ډالرو) څخه ډېر وي. د یاد ګوند په خبره، د دې کښتۍ بندول به په راتلونکو لسو کلونو کې د پناه غوښتنې په لګښتونو کې ۷ اعشاریه ۷ ملیارده پاونډه سپما رامنځته کړي .

»د اوبو پر سر زندان«

بیبي ستوکهولم له ۲۰۲۳ راهیسې د کډوالو د سرپناه په توګه کارول کېده. د ۲۰۲۳ په اګست میاشت کې د بیبي ستوکهولم د اوبو په سیستم کې د لیجېنالا باکتري ولیدل شو چې له امله یې کډوال له یادې کښتۍ څخه وایستل شول. چارواکو د اکتوبر میاشت کې اعلان وکړ چې د کښتۍ د اوبو په سیستم کې یې روغتیایي ستونزه هواره کړې او بیبي ستوکهولم ته یې د کډوالو بیا استول پیل کړي دي.

بیبي ستوکهولم یوه درې پوړیزه کښتۍ ده چې ۲۲۲ کوټې، سالون، ټلویزیون، پخلنځی، د انټرنټ او د لوبو ځایونه لري. له دې وړاندې د مهاجرو د ملاتړ سازمانونو دا کښتۍ «د اوبو پر سر زندان» ته ورته بللې او هلته یې د پناه غوښتونکو د ژوند په شرایطو نیوکې کړې وې .

د ۲۰۲۳ په ډېسمبر کې بیبي ستوکهولم کې یو کډوال خپل ژوند له لاسه ورکړ .هغه مهال بي بي سي د یو شمېر سرچینو له قوله لیکلي وو، ګومان کېږي چې یاد کس ځان وژنه کړې وي .له پېښې وروسته د برېټانیا د کورنیو چارو پخواني وزیر جېمز کلېورلي ویلي وو چې د دې قضیې په اړه به «ژور تحقیقات» وکړي.

همدارنګه، د روان کال په جولای میاشت کې لسګونو کډوالو بیبي ستوکهولم کښتۍ کې اعتصاب وکړ. دغو پناه غوښتونکو د ډوډۍ له خوړلو ډډه کړې او د کښتۍ په عرشه کې یې دوه ساعته تحصن کړی و.

هغه وخت د راسیسم پر ضد د دورسېټ د مبارزې سازمان پر خپله فېسبوک پاڼه لیکلي وو، اعتصاب کوونکو له چارواکو څخه غوښتنه لري چې «د پناه غوښتنې دوسیې یې په چټکۍ سره وارزول شي» ترڅو دوی له کښتۍ څخه ووځي او «ځان ته کار او سرپناه پیدا کړي». د سیمې یو شمېر اوسېدونکي هم د مظاهره کوونکو په ملاتړ پورټلنډ بندر ته نږدې راټول شوي وو.

## بلغاريا: له ترکیې سره پولې ته سل نور سرتېري استول کېږي

مهاجرنیوز



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*



د بلغاریا د پوله ساتو ځواکونو مشر ویلي دي چې له ترکیې سره پولې ته ۱۰۰ نوي سرتېري استول کېږي. د رومانیا، هنګري او اتریش دغه ځواکونه په داسې حال کې پولې ته لیږدول کېږي چې تمه ده بلغاریا او رومانیا په نږدې راتلونکي کې د شېنګن سیمې بشپړ غړیتوب ترلاسه کړي.

د بلغاریا د پوله ساتو ځواکونو مشر انتون زلاتانوف وایي، ټاکل شوې ده چې د رومانیا، هنګري او اتریش سل تازه دمي سرتېري د کډوالو د څپو د مخنیوي لپاره له ترکیې سره پولې ته واستول شي .دا وروسته له هغه چې بلغاریا او رومانیا د ۲۰۲۴ په مارچ میاشت کې د هوا او سمندر له لارې د شېنګن ساحې غړیتوب ترلاسه کړ.

د <u>یورو اکتیف</u> د خبر له مخې، بلغاریایي چارواکو دا هم ویلي دي چې د پولې د ساتلو او د کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره یې ۱۲۰۰ نوي کسان ګومارلي دي. چارواکو هیله ښودلې ده چې پولې ته د دغو نویو پوځیانو له استولو سره به له ترکیې څخه بلغاریا ته د اوښتونکو کډوالو په شمېر کې شاوخوا ۷۰ سلنه کموالی راشي.

موټرونه او امنیتي کمرې

د پوله ساتو ځواکونو د مشر په وینا، د شېنګن سیمې د نورو غړو په شان به د بلغاریا او رومانیا پر پوله کنټرول هم د شپږو میاشتو لپاره ادامه ولري. دغه چارواکی وایي چې د اروپایي ټولنې په مالي مرسته یې ۳۶۰ نوي موټرونه پېرلي دي چې د سرحداتو ساتنه کې ترې کار اخیستل کېږي. همدارنګه، له ترکیې سره پر پوله امنیتي کمرې لګول شوې دي او تمه ده چې دغه نوې ټکنالوژي په هغو سیمو کې هم ولګول شي چې دمګړۍ په امنیتي کمرو مجهزې نه دي.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

په دې وروستيو کې بلغاريا له ترکيې څخه د کډوالو د راتګ د مخنيوي لپاره پر خپله پوله امنيتي تدابير زيات کړي دي. وروسته له هغه چې بلغاريا د شينګن د غړي په توګه وپېژندل شوه، د بالکان د دغه هېواد او د ترکيې پر پوله د فرانټکس ځواکونو شمېر درې چنده زيات شو .

بشپړ غړيتوب

بلغاريا او رومانيا د شينګن ساحې بشپړ غړيتوب نه لري. اتريش يو له هغو هېوادونو و چې د کډوالو د ځپو د ورتګ له وېرې يې د بلغاريا او رومانيا له بشپړ غړيتوب سره مخالفت ښودلی و. له همدې کبله دغه دوه هېوادونه اوس يوازې د هوا او سمندر له لارې د شينګن ساحې غړي بلل کېږي.

خو د اتريش، هنګري، رومانيا او بلغاريا د کورنيو چارو وزيرانو له غونډې وروسته چې د نومبر په ۲۲مه بوداپست کې جوړه شوه، اتريش خپله منفي رايه بېرته واخيسته او د بالکان د دغو هېوادونو بشپړ غړيتوب ته يې لاره هواره کړه. تمه کېږي چې د دسمبر په ۱۲مه د اروپايي ټولنې د شورا د عدالت او کورنيو چارو غونډه کې د بلغاريا او رومانيا د بشپړ غړيتوب په اړه پرېکړه وشي.

د کډوالو شمېر کې ۷۲ سلنه کموالی

د بلغاريا د کورنيو چارو سرپرست وزير اتاناس الکوف شاوخوا دوه مياشتې مخکې ويلي وو چې د روان ميلادي کال د جنورۍ له لومړۍ نېټې د سپتمبر تر ۹مې پورې ۴۰۲۱۰ مهاجرو له ترکيې څخه بلغاريا ته د داخلېدو هڅه کړې ده. نوموړي دا خبره د بلغاريا پارلمان په هغه فوق العاده غونډه کې کړې وه چې شينګن زون کې د بلغاريا د غړيتوب او د بلغاريا او ترکيې پر پوله د کډوالو د حالت په اړه جوړه شوې وه.

اتاناس الکوف دا هم ويلي وو چې سږ کال د بلغاريا او ترکيې پر پوله د کډوالو شمېر د تېر کال په پرتله ۷۲ سلنه کم شوی دی. د هغه په خبره، په ۲۰۲۳ کې ۱۴۱۴۲۸ کډوالو له ترکيې څخه بلغاريا ته د داخلېدو هڅه کړې وه.

سربېره پر دې، د بلغاريا امنيتي ځواکونو تر ۱۶ زره زيات بهرنيان هم نيولي چې له اسنادو پرته دغه هېواد ته داخل شوي وو. بي تي اې خبري اژانس د کورنيو چارو وزير له قوله ليکلي وو چې ۳۸۴۵۷ تنه نور «په خپله خوښه» بېرته ترکيې ته ستانه شوي دي. د اتاناس الکوف په وينا، د ۲۰۲۴ په سپتمبر کې د بلغاريا او ترکيې پر پوله نيول شوي مهاجر تر ډېره د سوريې، عراق، افغانستان، فلسطين او مراکش وګړي وو.

## يونان: در دو حادثه غرق شدن قايق در جزيره ساموس و لسبوس ۹ نفر جان دادند

مهاجرنيوز



**نگهبانان ساحلی یونان روز دوشنبه اعلام کردند که ۹ مهاجر از جمله شش کودک و دو زن در جریان غرق شدن دو کشتی در نزدیکی جزایر ساموس و لسبوس جان داده‌اند. این دو جزیره یونانی در دریای اژه در نزدیکی سواحل ترکیه موقعیت دارند.**

**به گفته نگهبانان ساحلی، در عملیات نجاتی که بعد از غرق شدن یک قایق حامل مهاجران در نزدیکی جزیره ساموس انجام شد ۳۹ نفرنجات یافتند اما ۸ تن از جمله شش کودک جان دادند.**

**نیکوس پاناگیوتوپولوس، وزیر مهاجرت یونان در شبکه اجتماعی ایکس نسبت به این رو یداد مرگبار واکنش نشان داد و گفت: «غرق شدن[مهاجران] در ساموس و جان باختن هشت نفر بیگناه، از جمله شش کودک، ما را غمگین و خشمگین کرد. نگهبانان ساحلی ۳۹ نفر را نجات دادند. ما با قاطعیت با شبکه‌های قاچاقبران مقابله خواهیم کرد تا آن‌ها را نابود کنیم«.**

**جزیره ساموس در شرق دریای اژه، در نزدیکی ترکیه موقعیت دارد و بسیاری از مهاجران با قایق از ترکیه به مقصد این جزیره راه دریا را در پیش می‌گیرند.**

**همزمان، در یک رویداد دیگر غرق شدن قایق حامل مهاجران، نگهبانان ساحلی یونان جسد یک مرد را در نزدیکی جزیره لسبوس پیدا کردند و ۲۶ نفر دیگر را نجات دادند .**

**به گفته مقامات وزش باد شدید در منطقه عملیات نجات را با دشواری روبرو کرده بود.**

**افزایش ورود مهاجران به یونان**

جزیره لسبوس نیز یکی از مقاصد اصلی مهاجرانی است که از ترکیه با قایق حرکت می‌کنند و می‌خواهند خود را به یونان و یا به کشورهای دیگر اتحادیه اروپا برسانند .

این در حالیست که وزارت مهاجرت یونان اعلام کرده که از ابتدای سال جاری میلادی شمار افرادی که از جنگ و فقر در کشورهای دیگر فرار کرده و وارد یونان شده‌اند ۲۵ درصد افزایش یافته است. همزمان ورود مهاجران به مجمع الجزایر دودکانیز و مناطق جنوب شرقی دریای اژه ۳۰ درصد افزایش یافته است.

چندی پیش وزیر امور مهاجرت یونان تاکید کرده بود که »مناطق جنوب شرقی دریای اژه و جزیره رودس در حال حاضر تحت فشار مهاجرت هستند» اما این فشار ربطی به درگیری‌های خاورمیانه ندارد.

دریای اژه در این اواخر شاهد موارد متعددی از غرق شدن قایق‌ها و مهاجران بوده است. در آغاز ماه نومبر، چهار مهاجر در سواحل رودس جان باختند و در پایان ماه اکتوبر نیز، دو مهاجر در نزدیکی ساموس غرق شدند. تنها چند روز پیش از غرق شدن این دو نفر، چهار نفر دیگر - از جمله دو نوزاد - در جزیره کوس جان داده بودند.





خبرنامه